HUMAN RIGHTS WATCH
&
MEDIA ORGANIZATION
WHMO

# مطبوعاتي اعلامیه

**افغانستان، کابل**

**نېټه: ۱۰/۸/۱۴۰۰**

په افغانستان کې ملګرو ملتونو دخبریالانو پر وړاندې دجرمونو دمعافیت دپای ته رسولو دنړیوالې ورځې یادونه په داسې حال کې وکړه چې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی ورځ تربلې د ډېرېدو په حال کېدی. دیوناما مرستیالې مټه نوډسن نن دیوشمیر خبریالانو کوربه وه. هغې د افغان ژورنالیستانو د زړورتیا درناوی وکړ او دهغوی وژل شویو همکارانو ته یې احترام او د خبریالانو پر وړاندې دجرمونو دسزا دمعافیت دپای ته رسولو غوښته یې وکړه. د بشري حقونو او رسنی د څار اداره په دې آند ده چې که چېرته په خبریالانو د تاوتریخوالي ګراف راټیټ نه شي نو خبر یالان به د هېواد پرېښوودوته اړ او دبیان آزادي۔ رسنۍ او مالوماتو ته لاس رسی به کم شي۔ مونږ د خبریالانو له نړیوالو ادارو څخه غواړو چې له افغان خبریالانو ملاتړ وکړي او دوی په دغه سخت حالت کې یوازې پرې نږدي کنه نو کېدای شي د دوی پر وړاندې یو بشري ناورین رامنځ ته شي۔

---

اړیکه: عزت الله اکبري د WHMO یا د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې د رسنیو مشر

د اړیکو شمېرې: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴

برېښنالیک: media@whmo.org

Khoshal Khan, Kabul, Afghanistan.